# Evolution of Pashto Literature in Swat
# په سوات کښې د پښتو ادب ارتقا

Dr. Muhammad Ali DinaKhel*

ABSTRACT

In Pashtun geography, Swat is always remembered for its distinctions particularly for its contributions towards Pashto language and literature. This article attempts to trace back the origin and development of Pashto literature in Swat. Development of Pashto literature in Swat has been divided into four periods. The first period starts from sixteenth century and continues till the first decade of twentieth century. Second period is from 1915 to 1969. This is very important period in the development of Pashto language and literature. Third period starts from the merger of Swat State into Pakistan. The fourth period starts from the beginning of the 21st century. In this article a sketch of Pashto literary development in the first two periods will be presented.

**Key Words:** Swat, Pashto Literature, Pashto language, Yusufzai, Pashtuns.

د مختلفو تاریخي حوالو نه دا معلومه شوې ده[۱] چې سوات ته پښتو ژبه د پښتنو د راتګ سره د یوولسمې صدۍ په شروع کښې راغلې ده. د دې مقالې پوښتنه دا ده چې د پښتو تحریري ادب په سوات کښې د کوم وخت نه په نظر راځي او دا دبي ارتقا څنګه شوې ده. دا مقاله په سوات کښې صرف د پښتو ادب د ارتقا په حقله ده او په ادبي ارتقا کښې په څلورو دورونو کښې په وړومبیو دوؤ دورونو بحث کوي. په سوات کښې د پښتو ژبې د ارتقا په حقله زما یوه بله مقاله چاپ شوې ده.[۲] هم دغه وجه ده چې دا مقاله صرف د ادبي ارتقا احاطه کوي. په مجموعي توګه خو د سوات علمي او ادبي روایت دلته د موجود ډېر لیکونو او لرغونو تاریخونونه معلومیږي. په سوات بریکوټ کښې په ۱۸۹۷ کښې یو ډېر لیک په سنسکرت او دیوناګري خط کښې لیکلے موندلے شوے وۀ کوم چې اوس د لاهور

* Lecturer Area Study Centre University of Peshawar

په میوزیم کښې دے۔ په دې ډېر لیک ئې داسې لیکلي دي۔ "د ستر حکمدار او تر ګردو شاهانو غټ لوے باچا سري جیه پاله[۳] دیوه په باچاهۍ کښې۔" [۴] په سوات کښې د دې قسمه ډېرلیکونو په باره کښې محمد پرویش شاهین لیکي چې "دغه ډېر لیکونه د سرحد انګریز ګورنر ډین فیرنګي په منظم ډول په ډېر قیمت د عبدالمنان نومي سړي په پوهه او مشرۍ کښې د دې ځایونونه اوویستل او په ډېر لوے شمېر کښې ئې د فیرنګیانو وطن ته یوړل۔"[۵] په زړو تاریخونو کښې د دې خاورې علمي او ادبي اهمیت هم د پام وړ دے کوم چې د چیني زائرینو د سفرنامو نه په اسانه معلومیږي۔"[۶] کله چې مونږ په سوات کښې د پښتنو د راتګ نه وروستو د سوات علمي، تحریري او ادبي روایت ګورو نو اول چې د کوم کتاب ذکر د سوات او یوسفزوپښتنو په حواله راځي هغه "صراح" دے۔ مېجر راورټي د خپلې پښتو ډکشنرۍ په دیباچه کښې چې کله په ۱۴۱۷ کښې د شېخ ملي د کتاب ذکر کوي نو بیا ورپسې داسې لیکي۔

> It must not for a moment be inferred that previous to this there was no Pushto Literature. On the contrary, Akhund Darwezah mentions in his work entitled “Tazkirat-ul-Abrar”,[Tazkirat-ul-Abrar wal Ashrar] written in Persian, that in his time there was a celebrated book entitled صراح “the pure” which had been in the possession of the yusufzis for some centuries past and was ever held in great veneration by the tribe.[۷]

افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې د اخون درویزه په حواله وائي چې 'اکبر باچا د هندوستان نه کشمیر ته روان شۀ د یوسفزي ملاحظه ئې په خاطر کښې وه۔ په دې وخت کښې میا عیسي[۸] د یوسفزو سردارانو ته اولیکل چې که تاسو ما له د ملا شاه خاني د کتب خانې نه صراح کتاب راواستوئ نو زه به ستاسو دا ملک د اکبر باچا نه خلاص کړم۔[۹] د صراح نه وروستو چې د بل کوم کتاب ذکر په سوات کښې راځي هغه د شېخ ملي دفتر دے۔

## د شېخ ملي دفتر

د صراح نه علاوه چې د کوم کتاب ذکر د سوات په حواله ټولو تاریخونو کړے دے هغه "د شېخ ملي دفتر" دے۔ د شېخ ملي دفتر او د پښتو د ادبي روایت په باره کښې پنزل داسې لیکي۔

> The first use of Pashto as a literary language is believed to have

been in the fifteenth century when Shekh [Shaikh] Mali wrote his account of the conquest of Swat.[۱۰]

ترجمه: داسې وئيلې شي چې د ادبي ژبې په حېث پښتو په وړومبي ځل په پينځلسمه صدۍ کښې کارولې شوې ده کله چې شېخ ملي د سوات د فتح کولو خپل بيان اوليکلو.

خوشحال خان خټک چې کله سوات ته راغلې وۀ نو هغه هم د دې کتاب ذکر کړے دے. ځکه هغه په خپل کليات کښې يو ځائے کښې داسې وائي.

دوه کـاره دي پـه سـوات کښـې کـه خفـي دي کـه جلـي
مخـــــــزن د دروېـزه دے يـا دفتـر د شـېخ ملـي[۱۱]

د خوشحال خان خټک دا شعر په *Confidential, Gazetteer of North-West Frontier,* په *from Bajaur and Indus Kohistan on the North to the Mari hills on the South* ځلورم جلد مخ ۱۸۲۰ کښې داسې ليکلې شوے دے.

پـــه ســـوات کښـــې دي دادوه کفـــــــــره جلـــي
يـــو مخـــزن د دروېـــزه دے بـــل دفتـــر د شـــېخ ملـــي

په جرمني کښې د پښتو د شاعرانو د کلام يوه قلمي نسخه ده په هغې کښې په دويم جلد په مخ نمبر ۲۳۲ بي د "شعر معاند" د سرخط لاندې دا شعر ورکړے دے.

پـه صـوات کښـې دي دوه کفـره يـو خفـي دے بـل جلي
يـــو مخـــزن د دروېـــزه دے بـــل دفتـــر د شـــېخ ملـــي

د دې شعر نه وروستو ئې په مخ ۲۳۳ اے "رد از اکبر اخوند زاده" د سر خط لاندې يو کلام ورکړے دے چې اولني دوه شعرونه ئې دا دي

پـه ســوات کښـــې دوه کتابــه دي يــو فــرع بـل اصـلي
يـــو مخـــزن د دروېـــزه دے بـــل قـــران نـــور جلـــي
څـوک چـې لـه دې دواړو مخـالف ځـي پـه دنيـا کښـې
د قـــارون پـــه دود پـــرې ډک شـــو د دوزخ جـــور تلـــي

هم په دغه مخ د اکبر اخوند زاده د يو بل کلام دا دوه شعرونه هم د دې موضوع سره تعلق لري.

پـه سـوات کښـې دي دوه کفـره يـو خفـي دے بـل جلي
يـــو رســـوم باطلـــه دي بـــل دفتـــر شـــېخ ملـــي

ځــوک چــې مخــالف ځــي لــه قرانــه تــرې توبــه شــه
لـــــيس لمـــــن اعلـــــم الخلـــــف و لا لـــــي
پيــر خــو مــې قــران دے لــه رســومو مــې توبــه شــه
مثــل د لــوے حــوض دے چــې تــور تــن کــه صــيقلي
ديــن لــه خدايــه راغــے پــه قــران کښــې رابيــان شــۀ
دا لـــه حقـــه دينـــه نـــه جـــزي دي نـــه کلـــي

"دفتر شېخ ملي" د ګريرسن په خيال کښې د سوات د پښتو وړومبے کتاب دے خو هغه وائي چې په لاس نه دے راغلے۔

Pashto has a fairly copious literature, partly original and partly translated. The first book written in the language is said to be a history of the conquests of Swat by the Yusufzais, but no copy of it is known to exist.[۱۲]

ترجمه: په پښتو کښې ښۀ ډېر ادب موجود دے۔ په دې کښې څه ترجمه شوے دے او څه اصلي دے۔ په دے ژبه کښې وېبلے شي چې وړومبے کتاب د يوسفزو د سوات د فتح کولو باره کښې دے۔خو دې کتاب يو نقل هم موجود نۀ دے۔

مېجر راورټي په ۱۸۵۸ء کښې سوات ته يو قندهارے د "دفتر شېخ ملي" په لټون پسې رالېږلے وۀ۔ هغه ټول سوات اوکتلو خو دا کتاب ورته مېلاؤ نۀ شۀ۔ خو په واپسۍ کښې ورته چا دومره خبره اوکړه چې دا کتاب د شاه کوټ کلي د ميا غلام محمد سره دے خو د دغه کلي د امن و امان د خرابو حالاتو د وجې دے دغه کلي ته لاړ نه شۀ۔[۱۳] د مېجر راورټي د ۱۸۵۸ د ليکلې شوې مقالې نه خو دا پته اولګېده چې دا کتاب هغه په هغه وخت کښې نه وۀ موندلے خو بيا وروستو د هغه د پښتو ډکشنرۍ د ديباچې د بيان نه داسې پته لګي چې دا کتاب هغه وروستو موندلے دے۔ د خپلې پښتو ډکشنرۍ په ديباچه کښې په دې حقله هغه داسې ليکي۔

Shaykh Mali, Yusufzi, in A.D ۱۴۱۷, wrote the "History of his tribe and their conquests in the Peshawar valley, and in the *Samah* or plain on the northern bank of the Landdaey sind or Kabul River." This is the earliest work I have been able to discover.[۱۴]

ترجمه: شېخ ملي يوسفزي په ۱۴۱۷ کښې د خپلې قبيلې تاريخ او د هغوي په ذريعه د پېښور د وادۍ ،او د لنډي سيند يا د کابل سيند شمال طرف ته د سمې يا مېداني علاقې د فتح کولو تاريخ اوليکلو ـ دا په اولنو کتابونو کښې دے د کوم چې زۀ د موندلو جوګه شوم ـ نصرالله خان نصر وائي چې د "شېخ ملي دفتر نوموړي مستشرق مېجر راورټي موندلے دے ـ او په ۱۸۵۵کښې ئې د پښتو ګرامر په ديباچه کښې د دې کتاب د کتابت تاريخ ۱۴۱۷ء ليکلے دے ـ[۱۵] عبدالاکبر خان د شېخ ملي د وېش او بندوبست تاريخ ۱۵۳۰ء ليکلے دے ـ[۱۶] د دفتر شېخ ملي د ليکلو کوم تاريخونه چې دې بره ليکوالانو ذکر کړي دي نو د هغې نه دا پته لګي چې که دا يو داسې کتاب وي چې په هغه کښې د قبضه کړے شوو زمکو د وېش او د حساب کتاب ذکر وي نو دا کتاب به د ليکلے شوي کال يا وخت نه پس ليکلے شوے وي ځکه چې په دې وخت کښې يوسفزي په جنګونو او فتوحاتو کښې لګيا وو او وېش لا نۀ وۀ شوے ـ

تاريخ خان کجو:

يو بل اهم کتاب چې د هغه ذکر د سوات په حواله راځي هغه "تاريخ خان کجو" دے ـ دې کتاب باره کښې مېجر راورټي ليکي چې دا کتاب خان کجو راڼېزي[۱۷] په ۱۴۹۴ عيسوي کښې ليکلے دے ـ[۱۸] د دې کتاب په باره کښې مېجر راورټي نور تفصيل داسې ليکي ـ

> The history of the Yusufzis and the account of the conquest of Suwat, I have found in work in the Library of the India House; written however in a most strange manner in Pashto and Persian. The auther was an Afghan; and he goes on to relate in Persian and then all at once breaks into Pushto and vice versa.[۱۹]

ترجمه: ما د يوسفزو او د سوات د فتح کولو تاريخ په انډيا هاوس کتابتون کښې بيامونـدو ـ دا پـه يـو عجيبـه انـداز کښـې پـه پښـتو او فارسـۍ کښـې ليـکلے شـوے دے ـ د دې کتـاب ليکوال يو افغان وۀ ـ او هغه په فارسۍ کښې بيـان کوي او بيـا ناڅاپي پښـتو تـه واوړي او دغه رنګ بيا فارسۍ ته ـ

دا کتاب چې په فارسۍ او پښتو ګډوډ ليکلے شوے دے دا په اصل کښې د "تاريخ افاغنه" تلخيص دے چې د "تاريخ خان کجو" په نوم يادېږي ـ دې باره کښې محمد نواز طائر ليکي چې "د اصل مسودي، يعني تواريخ آفاعنه د مصنف نوم خواجو مليزے وۀ ـ

دغه مسوده لکه چې د تواریخ خان کجو په نوم هم شهرت لري. خواجو مورخ د خان کجو په مصاحبینو کښې وۀ. او په خپله یوسفزے وۀ. چې د خان کجو دوفات نه پس هم ژوندے وۀ. او دا کتاب چې د خان کجو د وفات ذکر هم لري داسې ښکاري لکه چې د هغه د وفات نه پس د هغه د یادګار په طور لیکلے شوے او هغه ته منسوب کړے شوے وي.[۲۰] موجوده وخت کښې دا کتاب د تواریخ حافظ رحمت خاني په نوم د پیر سباک کلي پیر معظم شاه مرتب کړے دے. هغه لیکي چې حافظ رحمت خان ته دا کتاب د شاه جهان پور د نواب خان بهادر خان غوریا خېل داودزي د کتب خانې نه راستولے شوے وۀ.[۲۱] ددې کتاب وړومبے مولّف خواجو ملیزے دے او هغه دا کتاب د تواریخ آفاغنه په نوم تقریباً په **۱۲۲۳**ء کښې لیکلے دے.[۲۲]

د دې کتاب یوه قلمي نسخه د جرمني د برلن ښار په دولتي کتابتون کښې په Ms. Or. Sprenge.۲۱۹ نمبر پرته ده.[۲۳]

مخزن الاسلام:

د سوات په پښتو ادب کښې وړومبے معلوم او موجود پوره کتاب مخزن الاسلام دے. د مخزن دوباره ترتیب او تدوین د اخون درویزه اولاد په سوات کښې کړے دے دغه وجه ده چې د سوات په پښتو ادب د دې کتاب ډېر ژور اثرات مرتّب شوي دي. ځکه د سوات په پښتو ادب کښې دې کتاب ته ډېر اهمیت حاصل دے. د دې وجوهاتو په بنا د هغه وخت نقادانو او مورّخینو مخزن الاسلام ته د سوات کتاب وئیلے دے. لکه خوشحال خان خټک چې وائي۔

که ژوندے شي افلاطون — سوات کښې اونیسي سکون
اکوزیو ته بیان کا — کتابونه د فنون
هدایه کفایه دواړه — په پښتو کاندي موزون
دوي به وائي چې دا څۀ دي — مخزن ښۀ دے د اخون[۲۴]

خوشحال خان خټک په یو بل ځائے کښې داسې وایي.

مخزن د درویزه د میانور شیخي پیري
الثالث بالخېر د حمزه خانې میري

دا درې تــو کــه ډېــر قــدر ډېــر عــزت لــري پــه ســوات کښــې
و خــدائے وتــه ښــکاره دي وئيــل نــه شــــــي پــه ځيــري [۲۵]

او د مخزن ذکر بل ځائے داسې کوي.

دوه کـــاره دي پـــه ســـوات کښـــې کـــه خفـــي دي جلـــي
مخــــــزن د درويـــزه دے يـــا دفتـــر د شـــيخ ملـــي [۲۶]

د اخون درويزه د مخزن باره کښې ميجر راورټي داسې ليکي.

Akhund Darwezah, wrote his “Makhzan Pushto”, in refutation of the tenets of the Roshanian sect of schismatics, promulgated by its founder Bayzid Ansari.[۲۷]

ترجمه: اخوند درويزه خپل د پښتو مخزن د روښاني فرقې د عقيدې په رد کښې اوليکلو. کومه عقيده چې د دې ډلې باني بايزيد خوروله.

د مخزن اسلام باره کښې ګريئرسن داسې ليکي.

Most renowned work, an unparalleled treasury of invective, is the Makhzan-e-Islam, in which he attacked the heresies of Bayazed.[۲۸]

ترجمه: مخزن اسلام ډېر زيات مشهور کتاب دے چې د بدو ردو يوه بې مثاله خزانه ده په کوم کښې چې د بايزيد انصاري په بدعت او الحاد حملې شوي دي.

خوشحال خان خټک په "سوات نامه" کښې د مخزن باره کښې داسې وايي.

يـــو کتـــاب دے درويـــزه ســـره جـــوړ کـــــــــړے
چـــې د ســـوات خلـــق ئـــې لـــه علمـــه دے مـــوړ کـــړے
نـــا معقـــول مجهـــول بيـــان پکښـــې بـــې ځايـــه
پکښـــې بـــد د ســـيد وايـــه يزيـــد ســـــتا يـــه
دا احـــوال بـــه پـــه بـــل فصـــل کښـــې ښـــکاره شـــي
پـــه مطلـــب نظـــر لـــــــرم چـــې درښـــکاره شـــي
نـــا ګهانـــه چـــې زمـــــا پـــه نظـــر کښـــېوت
پـــه دا حـــرف پـــه دا وئيـــل مـــې نظـــر پرېـــوت
چـــې لعنـــت بـــه پـــه يزيـــد هغــــه واينـــه
چـــې پـــه رفـــض کښـــې غـــره بـــې حـــده وينـــه [۲۹]

چــا بــه وي چــې دا اخــون زمــونږ امــــام دے
درســت مخــزن پــرې نــازل شــوے پــه الهــام دے
پــه مخــزن بانــدې چــې بــد وايــي کــافر دے
د کافــــر قتــل پــه شــرعه معتبــر دے[۳۰]

درويــزه چــې بيــان کــړے خپــل کتــاب دے
نــوم ئــے مخــزن الا ســرار کــړے جنــاب دے
هــر بيــان ئــې نــاموزون، مجهــول، بېرنګــه
خــالي يــا تولــه دانشــه لــه فــرهنګه[۳۱]

د اخون درويزه او د هغه د کتاب مخزن په سوات کښې د مقبوليت باره کښې خوشحال يو بل ځائے کښې داسې وائي.

د درســت ســوات د مــلايانو دا رضــا ده
چــې قبــول دې کــۀ دا کــار فائــده هــم دا ده[۳۲]
يوســفزيه چــې نيــولے ملــک د ســوات دے
دا همــه د درويــزه دعــا دعــوات دے[۳۳]

د مخزن د موضوعاتو ( Contents ) باره کښې خوشحال داسې وائي.

قصــيده د بوصــيري ترجمــه کــړې
عربــي ئــې تــر پښــتو مضــحکه کــړې
هــر هــر بيــت د قصــيدې چــې در مرجــان دے
پــه پښــتو کښــې تــر ور بشــولا ارزان دے
معمــاد ازرې ترجمــه کــړې
تصــوّف ئــې و عــالم وتــه نــو مــړې
ترجمــه د شــاه ناصــر يــو ځــوا شــکاله
و عــالم تــه جــوړه کــړې لــه مقالــه
مســئلې ئــې نظــم کــړې پــه پښــتو دي
درتــه څــۀ وايــم چــې څــۀ دي؟ د لوســتو دي؟

پــــه دا هســــې شـــان کتـــاب ئـــې مباهـــات دے
د جـــامي ترهفـــت اورنـــګ ورتـــه ناويـــات دے[۳۴]

هـــر ســـړے چـــې پـــه مخـــزن بانـــدې ځـــۀ وائـــي
پـــه دنيـــا کښـــې ترســـاعته بـــه ځـــوک پـــائي[۳۵]

درويـــزه نـــه مجتهـــــد دے نـــه امـــــام دے
دے هــم خــام تاســو هــم خــام مخــزن هــم خــام دے[۳۶]

د مخزن ترتيب او تدوين چې په اخري ځل مصطفیٰ محمد[۳۷] کړے دے نو په دې کښې د کريمداد شهيد، ميا مصطفي محمد او عبدالحليم الف نامې او د کلام نورې نمونې ورکړې شوې دي. د دې نه وړاندې د مخزن ترتيب او تدوين په سوات کښې د اخون درويزه زوي عبدالکريم کړے وۀ. دې باره کښې سېد تقويم الحق کاکا خېل داسې ليکي.

د هغه درې ډېر مشهور کتابونه مخزن الاسلام، ارشاد الطالبين او تذکرة الابرار والاشرار يقيناً د کال ۱۰۱۲ھ (۱۲۰۳ء) او د کال ۱۰۲۱ھ (۱۲۱۲ء) تر مينځه ليکلے شوي دي. د ارشاد المريدين متعلق هم دغه اندازه ده. دا ټول کتابونه د هغه مشرزوي عبدالکريم صاحب دوباره مرتب کړي او عام کړي دي. او هر يو کښې ئې ځۀ نه ځۀ اضافه هم کړې ده.[۳۸]

ډورن په خپل انتخاب کښې د اخون درويزه د "مخزن" ځۀ حصه ورکړي ده او دے وائي چې زما سره د مخزن قلمي نسخه د اخونددرويزه زوي عبدالکريم په کال ۱۰۱۴هجري (۱۲۰۵ء) کښې ليکلے ده."[۳۹] مخزن په ټوله پښتونخوا کښې او خاص کر د سوات په سيمه اهميت حاصل کړے وۀ.[۴۰] تقويم الحق کاکا خېل بل ځائے د کريم داد باره کښې ليکي چې عبدالکريم (کريم داد) د اخوند صاحب مشر ځوئے وۀ او د هغه ټول کتابونه ئې مرتب کړي او خواره کړي دې.[۴۱] مخزن الاسلام اخري ځل مصطفي محمد په ۱۲محرم کال ۱۱۱۲ھ ۱۷۰۰ء کښې مرتب کړے دے او د کريم داد او عبدالحليم الف نامې او ځۀ عبارتونه ئې ور زيات کړي دي. وروستو هم دغه نسخه خلقو نقل کړې ده او طباعت ته راغلې ده. مصطفي محمد د ميا نور محمد زوے او د کريمداد نمسے وۀ.[۴۲] دا اخري ځل کتابت او ترتيب په اسلام پور (سوات) کښې شوے دے.[۴۳] د مخزن دوه حصې دي يوه علمي او بله

ادبي ـ دا رنګ د ده علمي مقام جدا دے او ادبي مقام جدا.[۴۴] د دغه وخت په اهمو شخصياتو کښې يو پير با با هم وۀ ـ پير بابا هم يو کتاب ليکلے وۀ خو په لاس نه دے راغلے ـ دې باره کښې سيد عبدالجبار شاه ستهانوي داسې ليکي ـ

> میں نے غالباً 1894ء میں آپ کے ماذون اخوند جی صاحب کی اولاد اخوند خیلان تربیلہ میں سے ایک 80سالہ معمر بزرگ عالم کو عمداً جاکر دیکھتا تھا جن کا نام اصحاب الدین بابا تھا۔ میں نے اس سے اپنے اس مقصد کا ذکر کیا کہ آیا حضرت سید علی ترمذی قدس سرہ کی کوئی اپنی تصنیف آپ کی نظر سے گذری ہے یا نہیں اور آپ نے کسی سے سنا بھی ہے یا نہیں کہ حضرت کی کوئی اپنی تصنیف کتاب ہے یا نہیں۔ تو اس نے مجھ کو جواباً کہا کہ جب میں نو عمری میں طالب علم تھا اور پشاور کی مساجد میں جابجا درسوں میں تعلیم حاصل کر رہا تھا ان دنوں شہر پشاور کے نزدیک موضع چمکنی میں ایک متمول سوداگر رہتا تھا۔ اس کے پاس ایک کتاب سید علی ترمذی علیہ الرحمتہ کی تصنیف اور آپ کی اپنی لکھی ہوئی میں نے دیکھی تھی جو اس کے نزدیک تمام دولت ہے اور جائیداد سے زیادہ محبوب متاع تھی وہ بطور تبرک اس کو اپنے سینے پر رکھ رات کو سویا کرتا تھا اور کسی کو ہاتھ لگنے نہ دیا کرتا تھا۔[۴۵]

د دې ادبي روايت په لړۍ کښې د اخوند مياداد (۱۵۹۰-۱۶۶۸) ديوان هم شامل دے ـ[۴۶] اخون قاسم پاپين خېل[۴۷] (پيدائش ۱۲۳۰ء) خپل کتاب فوائد شريعت په ۱۰۷۲ھ کښې ليکلے دے ـ[۴۸] د مخزن الاسلام په رنګ فوائد الشريعت هم يو درسي کتاب وۀ.[۴۹] د اخوند عبدالغفور (سېدو بابا) په ادارت کښې به د سوات نه د اسلام /الجهاد په نوم يو اخبار[۵۰] هم شائع کيدۀ چې د پښتو ادبي صفحات به پکښې هم وو ـ او د سېدو بابا د خپل يو تصنيف ذکر هم بعضي تاريخ دانانو کړے دے ـ وائي چې سېدو بابا په پښتو کښې د مثنوي په څېر د مناجات يو کتاب ليکلے دے.[۵۱] داسې هم وئېلے شي چې دا کتاب لاچاپ شوے نه دے او د لندن په عجائب خانه کښې ئې قلمي نسخه پرته ده.[۵۲] د برټش ميوزيم د چاپ کتابونو په يو فهرست کښې د "مناجات صاحب صوات" د سر خط لاندې په اتم مخ د يو چاپ کتاب ذکر موجود دے ـ چې په انګرېزۍ کښې ئې ورته ليکلي دي چې دا يو نظم دے د صاحب سوات په مدح کښې ـ د دې د چاپ کال ئې ۱۸۸۳ ليکلے دے ـ په اتلسم مخ هم د " مناجات صاحب صوات" د سرخط لاندې د يو چاپ کتاب ذکر موجود دے چې د چاپ کال ئې ۱۸۸۴ ليک دے ـ دې کتاب ته ئې هم ليکلي دي چې دا د عبدالغفور په مدح کښې يو نظم دے.[۵۳] د دې

نه دا پته لګي چې دا کتاب سېدو بابا نهٔ دے ليکلے بلکې د هغه په صفت او ستائېنه کښې مناجات ليکلے شوے دے. ځکه چې سېدو بابا په ۱۸۷۷ کښې وفات شوے دے او په دغه کېټلاګ کښې مذکور کتابونه د ۱۸۷۷ نه وروستو ليکلے شوي دي.

د سوات مينګورې د محمد اکبر (۱۸۲۲-۱۷۸۰) چې په ملابابا مشهور دے، قلمي ديوان په برټش ميوزيم لندن کښې د مشرقي څانګې په کېټلاګ نمبر ۴۲۳۰ باندې محفوظ پروت دے. دا ديوان په ۱۸۸۲ کښې يو مشهور مستشرق پروفېسر ډارمسټېټر په مينګوره کښې د محمد اکبر د يو نمسي ډاک قاضي صېب نه وړے وۀ او په ۱۱اپرېل ۱۸۹۱ء د ډارمسټېټر نه د برټش ميوزيم د کتب خانې دپاره اخستے شوے دے.[۵۴] لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو چې مېجر راورټي په ۱۸۵۸ء کښې يو قندهاري سوات ته د "دفتر شېخ ملي" په لټون پسې راليږلے وۀ هغه چې دتانې نه د مانيار او اوډيګرام د کليو پورې کوم کتابونه ليدلي دي د هغې باره کښې ئې داسې ليکلي دي.

I examined the wole of the Pashto books of the villages between this and Tarrnah [Thana], which were chiefly on theology; but at Waddigram I found three others—the poem of Yusuf and Zalikha by Abd-ul-kadir [Qadir] khan and the poems of Shahai Dali, and Adam and Durkhanai, by Sadar Khan his brother.[۵۵]

ترجمه: ما د دې کلي او د تانې په مينځ کښې د پښتو ټول کتابونه اوکتل. دا کتابونه زياتره د مذهبي موضوعاتو سره متعلق وو. خو په اوډيګرام کښې ما درې نور کتابونه پېدا کړل. په دې کښې يو د عبدالقادر خان ليکلے د يوسف زلېخا منظوم داستان وۀ. او د شهئ دلي قيصه وه او بل د عبدالقادر خان د ورور ليکلې د ادم خان درخانئ قيصه وه.

په منګلور کلي کښې چې هغه د پښتو کوم کتابونه اوليدل د هغې باره کښې داسې وائي.

I examined all the Pashto books in this village [Minglawar] which I could get hold of, but they were all on divinity, and not one with which you are not acquainted; such as Makhzan-ul-Islam,Fawa'id-ush-Sharri'ah, Jannat-i-Fardous, Durr-i-Majlais etc.[۵۶]

ترجمه: ما په دې کلي کښې د پښتو د ټولو کتابونو جاېزه واخستله. دا ما اخستے شول خو دا ټول د مذهب متعلق وو. او داسې پکښې يو کتاب نه وو چې ته ورسره واقف نهٔ وې. لکه مخزن اسلام ، فوايد شريعت، جنت فردوس او درمجالس وغېره.

مېجر راورټي چې د سوات په مختلفو کليو کښې د پښتو روماني داستانونه، ادبي کتابونه او نور مذهبي کتابونه اوليدل نو د دې نه د اپته لګي چې دسوات خلق د پښتو ادب سره د اول نه ډېره مينه لري۔او د پښتو ادب په ترقۍ کښې د سوات ډېر لاس دے۔

پښتو ژبه،ادب او رياست سوات

سوات هغه يوځينے رياست وۀ چرته چې پښتو سر کاري ژبه وه۔ده رياست د وخت يو ليکوال زېب سر ليکي چې د رياست د فتري ژ به خپله مورنۍ پښتو وه۔تمام دفتري او معاملاتي احکام پۀ پښتو ژبه ليکلے کېدل۔د مقدمو اندراج، عريضې، ستامپ او تمسکات وغېره ټول پۀ پښتو کښې ليکلے شول۔مياګل عبدالودود په خپل دوران کښې په رياستي دفترونو کښې د فارسۍ ژبې پۀ ځائے پښتو له رواج ورکړۀ۔او نورېې هم د پښتو ژبې د ترقۍ دپاره لارې چارې اولټولې۔د تاريخ هندوستان او انوار سهيلي ترجمې هم په پښتو ژبه کښې د ده پۀ حکم او ليکلې شوې۔او د دۀ پۀ هداياتو فتاويٰ ودوديه هم اوليکلې شوۀ چې يو جلد ئې پۀ معاملاتو او بل پۀ عباداتو مشتمل دے۔د سوات متعلقات تاريخونه پۀ نظم او نثر کښې ليکلے شوي دي۔مياګل جهان زېب د پښتو ژبې ترقۍ طرف ته پۀ خاص طور متوجه وۀ۔او د قومي ليکوالو او اديبانو قدر او عزت به ئې کولو۔د خپلې مورنۍ ژبې د دفتري کيدو فايدې داشوې چې پۀ عدالتو نو کښې د وکيلانو د پېش کېدو ضرورت نۀ وۀ۔هر چا به خپل مافي الضمير ظاهر ولے شو او خپله مقدمه به ئې چلولے شوه۔او هم دا وجه ده چې دلته مقدمو څۀ پيچيده صورت نه اختيارولو۔[57] تاج محمد خان زېب سر دا حالات پۀ نظم کښې داسې بيانوي۔

اول ژبـــــه د فارســــــۍ هـــــم د فتــــــري وه
عـــامو خلقولـــه هـــم دالويـــه خـــواري وه
اوس پښـــتو د فتـــري ژبـــه کـــړه ســـلطان
شـــۀ د عـــامو خلقـــو دا مشـــکل اســـان
پـــه پښـــتو تـــاريخ تصـــنيف هـــم شـــۀ د ســـوات
شـــۀ دې قـــام وتـــه معلـــوم هـــم خپـــل حـــالات
د پښـــــــتو د ادب دور د کمـــــــال دے
چـــې ســـلطان د پښـــتنو دا نيـــک خصـــال دے[58]

میاںګل عبدالودود پهٔ خپل سوانح کښې د مورنۍ ژبې پښتو باره کښې وايي چې

دپښتو ژبې سره زما د دلچسپۍ مطلب دا نهٔ دے چې زهٔ ګني د نورو ژبو د اهميت او ترقۍ نه انکار کوم خو صرف دومره خبره ده چې پښتو زمونږ خپله مورنۍ او علاقايي ژبه ده نو بيا د پښتو سره مينه يو قدرتي امر دے۔ زهٔ چې د سوات حکمران شوم نو بيا څهٔ موده پس زهٔ پهٔ دې نتيجې اورسېدم چې هرې علاقې او هر قام د پاره خپله ژبه خپلول ښهٔ وي۔ خپلې ژبې او خپل تهذيب ته پهٔ سپک نظر کتل د پر بوتي غلام ذهن کار دے۔ او دخپل قومي وقار او قومي غېرت سره د شمني کول دي نو ما د خپل رياست د فتري او عدالتي ژبه پښتو مقرره کړه ۔ سرکاري فارمونه، اسټامونه، رجسټرونه، کتابونه د اهر څهٔ مې پښتو کښې چاپ کړل ۔ دې کښې شک نشته چې د پښتو ژبې خپلولو کښې مونږ ته ډېرې اسانۍ او ډېرې فائدې حاصلې شوې ۔د دې نه علاوه ما څهٔ کتابونه هم پښتو کښې چاپ کړل۔ هغې زمانه کښې د فيرنګي بادشاهي وه نو د پښتو خوارې تپوس چا کوهٔ ۔ ما زړهٔ کښې سوچ اوکړه چې د پښتو نه د تعليم يافته پښتنو د بېزارۍ وجه هم داده چې يو خو پښتو دسرکاري سر پرستۍ نه محرومه ده بله داچې د پښتو کتابونه او لټرېچر پهٔ داسې بدرنګه طريقه چاپ کيږي چه هېڅ دلکشي نه لري ۔ هغې زمانې کښې به اکثر هندوانو او سيکهانو دکاندارانو د تجارت دپاره پهٔ ډېر نا کاره کا غذ د پښتو کتابونه چاپ کول نو ماضروري اوګڼله چې پښتوکښې يو څو ښکلي او معياري کتابونه چاپ کړم او بيائې پهٔ خلقومفت وېش کړم چې پښتو سره د خلقو د لچسي پېدا شي او ذهني فائده هم ترې حاصله شي۔[۵۹]

بيا پهٔ دې سلسله کښې چې کوم کتابونه چاپ شوي دي هغوي کښې قابل ذکر کتابونه دا لاندې دي۔

انوار سهېلي :

دا يو مشهور کتاب دے چې د دې پښتو ترجمه د باچا صيباپه وېنااو کړې شو ۔ بيايه ولا يتي کاغذ پهٔ ښکلي خط او خائسته جلد بندۍ سره شائع شهٔ۔ ددې کتاب پهٔ زرګونو جلدونه

چاپ شوي وو۔

تاريخ فرشته

دا د هندوستان مشهور تاريخ دے۔دا هم پۀ دوو ضخيمو جلدونو کښې هم د غسې پۀ اعلي طريقه د زرګونو پۀ تعداد پۀ پښتو کښې ترجمه شوے او چاپشوے دے۔

فتاویٰ ودوديه

د رياست سوات د طرف نه پۀ پښتو ژبه کښې دا ډېر اهم کتاب پېش شوے دے۔دا کتاب ډېر کارامد مفيد اومقبول ثابت شوے دے۔اوله حصه کښې دا اسلامي فقهې احکامات دي دوېمه حصه بې د قضا سره تعلق لري۔دا کتابونه هم دغسې پۀ اعلي طريقه چاپ شوي دي۔

ميزان الصرف

د طالبانو د پاره د ګردانونو يو کتاب دے۔دا هم د رياست سوات پۀ دور کښې چاپ شوے دے او پۀ طالبانو مفت تقسيم شوے دے۔

د دې کتابونو د چاپ او د تقسيم پۀ باره کښې باچا صېب پۀ خپل سوانح کښې وائي چې دا ټول کتابونه چې چاپ شول نو بيا به بې خلقو ته مفت ورکول۔د تقسيم دا سلسله لا تر اوسه جاري ده ۔ فتاوی‌ٰ پکښې دوۀ زره جلدونه دوېم ځل چاپ شو ۔ اکثر د حکمرانئ مصروفيت داسې وي چې سړے پکښې هر وخت ذهني مصروف وي بله دا چې ځني نور وجوهات هم داسې وي چې سړے مجبور شي۔هغه څۀ چې ئې زړه غواړي هغه هم نه شي کولي۔بيا د وخت او د عمرتقاضې داسې هم پېښې شي چې انسان سره د اختياره مجبور غوندې پاتې شي۔ګني د کتابونو سره زما ډېره مينه شته دے او زۀ غواړم چې د علم ادب او د خپلې ژبې زيات نه زيات خدمت مې کړے وے او او مې کړے۔خو لکه څنګه چې ما اووئيل اکثر داسې هم وي۔زما د پاره اوس دا احساس هم د شکر او د خوشحالئ باعث دے چې د پښتو ژبې د خدمت نه بالکل محروم نه يم پاتې۔د خپلې مورنئ او علاقائي ژبې ترويج او ترقئ کښې د خدمت څۀ حصه خو مې اخستې ده۔[20] مولانا عبدالقادر پۀ خپل يو خط کښې والي سوات ته ليکلي دي چې تاسو د اوس نه د قامي تعليمي کمېش د هغه رپورټ پۀ سفارش د رياست سوات پۀ حدودو کښې دننه عملاً اقدام اوکړئ پۀ کوم کښې چې کمېشن د اوئيلي دي چې تر پينځم جماعت دې ذريعه تعليم پۀ هر علاقه کښې پۀ مورنئ ژبه کښې وي۔د دې د پاره دا ضروري ده چې ترپينځمه پورې دې دهر مضمون ژبه د

اردو نه پښتو شي.[۲۱] پۀ دغه خط کښې مولانا عبدالقادر وړاندې ليکي چې دا افتخار الله تعالٰي د سوات د رياست د چلونکي خاندان پۀ برخه کښې ليکلے وۀ چې پښتو پۀ حېثيت د سرکاري ژبې هم پۀ سوات کښې ده. کابل چې ډېرې لوړې دعوې کوي او د پښتونستان ساندې وائي تش پۀ توره دعوې کوي حقيقي امتياز خو د رياست سوات حق دے نه د کابليانو.[۲۲]

د رياست پۀ شاعرانو کښې د سيف الملوک صديقي انداغ کتاب د پېښور يونيورسټۍ د پښتو پۀ نصاب کښې شامل وۀ.[۲۳] سوات کښې پښتو ژبې ته د دفتري ژبې د حېثيت مېلاوېدو او پۀ دې ژبه کښې د تاليف او تصنيف باره کښې زېب سروايي.

پـــه غـــــرض د اســــانۍ د هرآفغــــان
کــــړه پښــــتو د فتــــري ژبــــه دې ســــلطان
د دې قـــام د ترقــــۍ پـــــۀ دې مطلـــب
د پښــــتو ترقــــي غــــواړي روز وشـــب
پـــه پښــــتو کښــــې سلســــله هـــم د تصــــنيف
اوس شـــروع شـــوۀ پـــۀ دوران د شـــاه شـــريف
پـــه دې ملـــک کښــــې هـــم فقـــط دې حکمـــران
د پښــــتو تصـــنيف تـــاليف اوکـــړۀ فرمـــان
د پښــــتو يـــو مســــتندنه وۀ کتـــاب
چـــې قـــومي تـــاريخ هـــم وي هغـــه حســـاب[۲۴]

تاج محمد خان زېب سر د قامونو ترقي او مورنۍ ژبه لازم او ملزوم گڼي. هغه وائي چې حقيقي ترقي هله حاصيلېږي چې د روح طاقت، دزړۀ د استقامت د ذهن او خيال د پاکيزګۍ او د فکر د صفايۍ سامان موجود وي. قوم خود کفيل، ژبه خپله، روايات خپل، عادتونه خصلتونه اورملکي دستور خپل وي. او دا د شرم ځائے دے او خپل ځان او خپلې ژبې ته سک کتل دي چې يو پښتون د بل پښتون سره پۀ پښتو کښې خبرې نه کوي. که د دې نه مطلب خپله پوهه، علم او لوئي ظاهره ول وي نو دانۀ لوئي ده او نۀ پوهه ده بلکې ځان سپکول، قوم اورکول او قومي ژبې ته د حقارت پۀ نظر کتل دي.[۲۵]

نتیجه

لکه څنګه چې په شروع کښې ذکر شوي وو چې دا مقاله په بنیادي توګه د دې پوښتنې جواب ورکوي چې سوات کښې تحریري ادب د کوم وخت نه شروع شوے دے او په سوات کښې د پښتو ادب ارتقا څنګه شوې ده. د مختلفو ماخذونو د تجزئې نه د دې سوال جواب اولټولے شئ او پته اولګېدله چې پښتانهٔ سوات ته د محمود غزنوي د لښکر د راتګ په وخت کښې راغلي دي او د دغه وخت نه په سوات کښې پښتو ژبې رواج موندلے دے. خو په سوات کښې د پښتو تحریري ادب د یوسفزیو پښتنو د راتګ نه وروستو په نظر راځي. او وړومبے پوره، معلوم او موجود کتاب د اخوند درویزه مخزن الاسلام دے. دغه رنګ په سوات کښې د پښتو ادب ارتقا په څلورو دورونو کښې وېشلے شي. وړومبے دور د شپاړسمې صدۍ نه د نولسمې صدۍ پورې، دوئم دور د شلمې صدۍ د دوئمې لسیزې نه د وومې لسیزې پورې (د سوات د خود مختار ریاست زمانه **۱۹۱۵** نه **۱۹۶۹** پورې)، دریم دور د سوات د انضمام نه تر شلمې صدۍ د ختمیدلو پورې (**۱۹۶۹** نه **۲۰۰۰** پورې)، او څلورم دور د یویشتمې صدۍ نه شروع کیږي او لا جاري دے. په دې څلورو دورونو کښې د هر دور خپل سیاسي او سماجي خصوصیات دي. او هم د دغه خصوصیاتو په بنیاد د دې دورونو تقسیم شوے دے. او دغه سماجي او سیاسي خصوصیات د هر دور په پښتو ادب کښې هم په نظر راځي.

References

[۱] په دې حقله نورو تفصيل زما په کتاب " د سوات پښتو ادب او ثقافت" کښې درج دے۔

[۲] په سوات کښې د پښتو ژبې د ارتقا په ځقله زمايوه بيله مقاله دپېښور پوهنتون د پښتو اکېډمۍ په پښتو مجله جلد نمبر ۴۹ شمېره نمبر ۲۲۰ (جولائي تا دمبر ۲۰۲۰) کښې چاپ شوې ده.

[۳] حبيبي ليکي چې دا جيه پال يا جېپال هغه کابلشاه دے چې د پلار نوم ئې بهيم ديوه وۀ۔ او د ۳۰۰ هجري په شاو خوا کښې ئې باچاهي کوله۔ جېپال په ۳۴۹ هجري بمطابق ۹۲۰ م کال کښې باچا شو۔ او د العتبي په قول په ۳۹۳ ق ئې ځان اوسوځوه۔ دغې کورنۍ د غزني د باچا امير سبکتګين سره ډغرې ووهلې او کله چې د کابل نه بې کوره شو نو بيا ئې د اباسين په غاړه په هنډ کښې دوېم پايه تخت جوړ کړو۔ او د لغمانه تر پکلۍ پورې د سوات په شمول د دوي حکومت وۀ۔ (حبيبي، د سواتنامې سريزه، مخ: ۴)

[٤] حبيبي، عبدالحي، د سوات نامې سريزه، مخ: ٤

retrieved on 13-11-2016www.alamahabibi.com/pdfs/A_Book_da%20swatbamee%20sareza.pdf

[۵] شاهين، محمد پروېش، ګل ورينې څوکې، مينګوره، شعيب سنز پبلشرز بک سيلرز، فروري ۱۹۸۹، مخ : ۱۴۳

[۶] هم دغه اثر ، مخ : ۱۴۳

[۷] Raverty, H.G., A Dictionary of the Upshot, Pushto or Language of the Afghans; with remarks on the originality of the language, Peshawar, Saeed Book Bank and Subscription Agency, 1901/1982, pp. ix,x

[۸] شاه عيسي (ميا عيسي) د سند د بکوله ساداتو څخه يو زاهد وۀ۔چې په اټک کښې اوسېده۔( د خوشحال بابا کليات ، سمونه ، مقدمه ، حاشيې ،تشريحات او فرهنګ د پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم خټک ،پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۲۰۱۲، مخ: ۱۳۴۳

[۹] خټک افضل خان، تاريخ مرصع، مقابله، تصحيح او نوټونه له دوست محمد خان کامل مومند ، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، اول ځل ۱۹۲۷، مخ: ۲۴۰

[۱۰] Penzl, Herbert, A Grammar of Pashto: A Descriptive Study of the Dialect of Kandahar Afghanistan, Washington DC, American Council of Learned Societies, 1955, p. 4

[۱۱] خټک، خوشحال خان، کليات خوشحال خان خټک، مقدّمه او شرحه له دوست محمد خان کامل نه، پېښور، اداره اشاعت سرحد، دوېم ځل ۱۹۲۰، مخ: ۹۲۵

[۱۲] Grierson, G.A., Linguistic Survey of Pakistan, Vol. II, Aryan Family, Pashto-

Ormuri/Bargista-Baluchi-Chalhah (Being Vol. X Linguistic Survey of India), Lahore, Accurate Printers, p.10

[۱۳] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. 31 (No. 3, 1862), pp. 260,259

[۱۴] Ibid.,p. ix

[۱۵] نصر، نصرالله خان، سوات، پېښور، عظيم پبلشنګ هاوس، ۱۹۲۳، مخ: ۱۲

[۱۶] اکبر، عبدالاکبر خان، روښانيان د مغلو تاريکيان، پېښور، اداره اشاعت سرحد، [۱۹۲۲]، مخ: ۳۷

[۱۷] د کجو خان اصلي نوم خان احمد خان وۀ. دے د خپل وخت د ټولو نه لوے ملک وۀ. د سوات په خواو شا کښې اوس هم رانيزي نومې يو قوم اباد دے. کجو خان د رانيزي د مشهور خېل ازي خېلو سره تعلق لري. وئيلے شي چې د دې کورنۍ په دغه علاقه کښې ډېر نوم خور وۀ. کجو خان د شيخ ملي نه پس په پښتنو کښې ډېر ياد سړے وۀ. د حيات افغاني مصنف ليکي چې خان کجو د شېر شاه معاسر وۀ. (رضا، محمد افضل، د پښتو د نثر تاريخ، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹۹۲، مخ: ۱۱۸)

[۱۸] Raverty, H.G., A Dictionary of the Upshot, Pushto or Language of the Afghans; with remarks on the originality of the language, Peshawar, Saeed Book Bank and Subscription Agency, 1901/1982, pp.x

[۱۹] Ibid., p.261

[۲۰] طائر، محمد نواز (ديباچه)، تواريخ حافظ رحمت خاني، مصنف پير معظم شاه، پېښور، پښتو اکېډمي، پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۷/۱۹۷۱، مخ: ۴، ۵

[۲۱] هم دغه اثر، مخ: ۴

[۲۲] هم دغه اثر، مخ: ۷

[۲۳] دا قلمي نسخه ما يوځل په کال ۲۰۱۲ کښې او بل ځل په کال ۲۰۱۹ کښې په تفصيل سره کتلې ده او نوټس مې ترې هم اخستلي دي کوم چې په د يوې مقالې په صورت کښې چاپ کولے شي

[۲۴] خټک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال سره د مقدّمې د ميا سيد رسول رسا، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹۲۷/۲۰۰۹، مخ: ۷۱۲

[۲۵] هم دغه اثر، مخ: ۲۸۹

[۲۶] خټک، خوشحال خان، کليات خوشحال خان خټک، مقدّمه او شرحه له دوست محمد خان کامل نه، پېښور، اداره اشاعت سرحد، دوېم ځل ۱۹۲۰، مخ: ۹۲۵

[۲۷] Raverty, H.G., A Dictionary of the Upshot, Pushto or Language of the Afghans; with remarks on the originality of the language, Peshawar, Saeed Book Bank and Subscription Agency, 1901/1982, p.x

[۲۸] Grierson, G.A., Linguistic Survey of Pakistan, Vol. II, Aryan Family, Pashto-Ormuri/Bargista-Baluchi-Chalhah (Being Vol. X Linguistic Survey of India), Lahore, Accurate Printers, p.10

[۲۹] خټک، خوشحال خان، سوات نامه سره د مقدّمې تحقیق او سمون د همېش خلیل، اکوړه خټک، مرکزي خوشحال ادبي و ثقافتي جرګه، ۱۹۸۲، مخ: ۷۲

[۳۰] هم دغه اثر ، مخ: ۷۳

[۳۱] هم دغه اثر ، مخ: ۷۴

[۳۲] هم دغه اثر ، مخ: ۷۷

[۳۳] هم دغه اثر ، مخ: ۸۸

[۳۴] هم دغه اثر ، مخ: ۷۵

[۳۵] هم دغه اثر ، مخ: ۷۶

[۳۶] هم دغه اثر ، مخ: ۷۷

[۳۷] د میا مصطفي محمد خېل نوم نثار احمد ؤ۔ میا مصطفي د دۀ قلمي نوم وۀ۔ خو په عوامو کښې نه چا په نثار احمد نوم پېژندو او نۀ په میا مصطفي نوم یادېدو۔ په عامو خاصو کښې په میا جیو یا میا نجو بابا مشهور دے۔ دے د کال ۱۰۵۴ هجري خواو شا د سوات په سلامپور کلي کښې د میا نور محمد ابن میا کریمداد کره زېږېدلے وۀ۔ دے د نقشبندیه طریقې یو کامل پیر وۀ۔ د عمر زیاته برخه ئې په خپل کلي سلامپور کښې تېره شوې ده۔ او هم دلته د کال ۱۱۳۴ هجري خواو شا وفات شوے دے۔ قبر ئې د خپل پلار میا نور محمّد د قبر سره خوا کښې نمر خاته لاس ته دے۔ په میا جو بابا یادیږي۔ (رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه، مخ: ۵۰)

[۳۸] کا کا خېل، سېد تقویم الحق، (مقدمه)، مخزن، مصنّف اخون دروېزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۷/۱۹۲۹، مخ:لح

[۳۹] هم دغه اثر ، مخ: لح

[۴۰] طائر، محمد نواز، (نحمده)، مشموله مخزن، مصنّف اخون دروېزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۷/۱۹۲۹، مخ: ۵

[۴۱] کا کا خېل، سېد تقویم الحق، (مقدمه)، مخزن، مصنّف اخون دروېزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۷/۱۹۲۹، مخ:عا، عب

[42] هم دغه اثر ، مخ:عط
[43] درویزه، اخون، مخزن سره د مقدمې د سیّد تقویم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۷/۱۹۲۹، مخ:۲۱۶
[44] کا کا خېل، سېد تقویم الحق، (مقدمه)، مخزن، مصنّف اخون درویزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۷/۱۹۲۹، مخ: عط، فا
[45] س تهانوی، سید عبدالجبار شاه، کتاب العبرۃ: صوبہ سرحد وافغانستان کی چار سو سالہ تاریخ ۱۵۰۰تا۱۹۰۰ (جلد اول)، اسلام اباد، پورب اکادمی، ۲۰۱۱، ص: ۱۵
[46] میاداد، اخون، د اخون میاداد دیوان، سمونه او څېړنه بدرالحکیم حکیمزے، لاهور، اداره نشرالمعارف، ۲۰۱۱، مخ: ۲۹
[47] د اخوند قاسم پوره نوم میا اخوند محمد قاسم ؤ۔ د کال ۱۰۴۲هـ مطابق ۱۲۳۰ عیسوي خواو شا په سوات سېدو شریف کښې پېدا شوے ؤ۔ د پلار نوم ئې اخوند محمد صدیق او د نیکه نوم ئې محمد شریف ؤ۔ د پاپیني میاګانو سره د تولق لرلو په سبب ئې د نوم سره لفظ پاپین خېل لیکلے کیږي۔ (رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز، ۲۰۱۵، مخ: ۲۰)۔ د اخوند قاسم دوه ورونړه نور هم وو۔ دے په دریو واړو رونړو کښې مشر ؤ۔ دے په سېدو شریف کښې د خپل پلار او ترونو سره یو ځاے اوسېدو۔ په دغه زمانه کښې د اخوند درویزه بابا مشر زوے اخوند کریم داد د سوات په کانجو کلي کښې اوسېدۀ۔ او د علم او د عرفان دبدبه او شهرت ئې په هر طرف خور ؤ۔ اخوند قاسم پاپین خیل د شپاړسو کالو په عمر کښې د میا کریم داد په حلقه کښې شامل شو۔ تقریباً لس کاله ئې ترې د ظاهري او باطني علومو فیض حاصل کړۀ۔ په کال ۱۰۷۲ هجري کښې چې کله میا کریم داد د تیرات په غزا کښې د ډوما کافرو د لاسه شهید شو نو میا قاسم پاپین خېل د کانجو نه د دغه علاقې یو بل کلي ته، چې وروستو بیا د هغه په وجه په اخون کلي مشهور شو ، راغے۔ میا قاسم تر وفاته پورې په اخون کلي کښې استوګن ؤ۔ قبر ئې هم دلته دے د وفات کال ئې نۀ دے معلوم۔ (رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز، ۲۰۱۵، مخ:۲۱) میا قاسم پاپین خېل لوے صوفي، بزرګ، عالم، فاضل، د باطني علومو خاوند او د خپل وخت یو صوفي شاعر ؤ۔ د فواید الشریعت او فواید المومنین په نوم ئې دوه کتابونه په پښتو کښې لیکلي دي ۔ د پښتو شعرونو یو دیوانن ئې هم لرلو خو اوس نایاب دے۔ فواید الشریعت په ۱۰۷۲ هجري کښې د تیرات د جنګ نه څلور کاله پس لیکلے شوے دے۔ هغه اګر چې د میا کریم داد شهید شاګرد او مرید ؤ۔ خو په خپل کلام کښې ئې د میا کریم داد نه علاوه د اخوند درویزه بابا او پیر بابا سره هم ډېر عقیدت ښکاره کړے دے۔ (رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز، ۲۰۱۵، مخ:۲۲) د اخوند قاسم د کتاب "فواید

الشريعت" يوه قلمي نسخه د جرمني په برلن ښار کښې په يو کتابتون کښې موجوده ده. (ديناخېل)
[۴۸] رحيم، رحيم شاه، غته خزانه (ناچاپه)، مخ: ۴۱
[۴۹] شاہ، صفدر علی، سید، (مترجم)، روہی ادب، مصنّف محمد نواز طائر، پشاور، پشتو اکیڈمی، ۱۹۸۷/۲۰۰۵، ص: ۴۳
[۵۰] د دې اخبار مختلف نومونه ذکر شوي دي لکه الجهاد، الاسلام، اسلام وغېره. نور تفصيل په دې باب کښې د صحافت د سر خط لاندې موجود دے.
[۵۱] نصر، نصرالله خان، اخون صاحب سوات، پشاور، تعليمي اداره کريمپوره، ۱۹۷۸/۱۹۵۰، مخ: ۷۳
[۵۲] نصر، نصرالله خان، اخون صاحب سوات، مخ: ۷۳
[۵۳] Blumhardt, J.F., Catalogues of the Hindi, Panjabi, Sindhi and Pushtu printed books in the Library of the British Museum, London, Longman, Greens and Co., 1893, p.8 (Catalogue of Pushtu Books).
[۵۴] رحيم، رحيم شاه، غته خزانه (ناچاپه)، مخ:۵۸
[۵۵] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. 31 (No. 3, 1862), pp.240,241
[۵۶] Ibid., p.248
[۵۷] زېب سر، تاج محمد خان، نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلد اول)، ۱۳۷۵ هـ، مخ: ۷۱، ۷۰
[۵۸] زېب سر، تاج محمد خان، عروج افغان (جلد اول)، [۱۹۴۱]، مخ: ۳۷۳
[۵۹] خان، محمد اصف، تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت ميا ګل ګل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، [۱۹۵۸]، مخ:۳۵۷-۳۵۹
[۶۰] هم دغه اثر، مخ:۳۵۷-۳۵۹
[۶۱] خټک، پردل (مولّف)، د مولانا عبدالقادر خطونه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۳، مخ: ۲۱۷
[۶۲] هم دغه اثر، مخ:۲۱۸
[۶۳] هم دغه اثر، مخ: ۲۲۴
[۶۴] زېب سر، تاج محمد خان، عروج افغان (جلد دوېم)، [۱۹۴۲]، مخ: ۹، ۱۰
[۶۵] زېب سر، تاج محمد خان، نوے سوات او د شاه جهانزېب زمانه، (دريم جلد) ۱۹۵۷ مخ: ۳۸، ۳۷